# العنکبوت

**مکی سورة دی ۶۹ آیتونه لری**
**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

الٓمٓ ﴿١﴾

**الف- لام- میم( په اصلی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی.**

أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ﴿٢﴾

**آیا خلک داسې ګومان کوی چې یوازې په دې ادعا به پریښودل شی چې وایی ایمان مو راوړی، او په (ځانی او مالی زیانونو او حوادثو به) و نه ازمایل شی( یعنې الهی ازمایښتونو او ابتلاآتو ته تیاریدل، د ټینګ ایمان محک او معیار دی).**

وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ
ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٣﴾

**بیشکه چې مونږ له دوی نه وړاندې ولسونه هم تر ازمایښت لاندې نیولی او یقیناً چې الله تعالی به( د ایمان په ادعا کې) رښتینی او صادق مؤمنان له دروغجنانو څخه( په عامه منظر کې) تفکیک او تصفیه کوی.**

أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَسۡبِقُونَاۚ سَآءَ مَا
يَحۡكُمُونَ ﴿٤﴾

**آیا د ناوړو اعمالو مرتکبین ګومان کوی چې( زمونږ له مجازات او سخت عذاب نه به) وتښتی. دا د دوی ډیره غلطه پریکړه( او خام خیال دی).**

مَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ ٱللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ لَأٓتٖۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٥﴾

**څوک چې د الله تعالی د ملاقات( او د هغه حضور ته د تقرب) هیله من دی( باید په طاعت او عبادت کی یې زیات مصروف شی) ځکه د الله تعالی ټاکلی موده( قیامت) هرومرو رارسیدونکي ده، او الله تعالی ( د هر چا د خبرو) اوریدونکی او( د هر یوه په اعمالو) پوه ذات دی.**

وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفۡسِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٦﴾

**او څوک چې (د الله تعالی په لار کې د دین له دښمنانو او یا له خپل نفس سره) جهاد کوی، ګټه یې خپله ده، ځکه الله تعالی له ټولو مخلوقاتو څخه بې نیازه دی.**

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ
وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٧﴾

او هغه کسانو چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه یې کړی، گناهونه به ترې ورژوو، او د هغوی د نیکو اعمالو په اساس به ورته اجر او ثواب ورکړو.

وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حُسْنًا ۖ وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ
بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَآ ۚ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾

او انسان ته مو سپارښتنه وکړه چې له خپل مور او پلار سره نیکی وکړی، او که هغوی دواړه( د جهالت او ناپوهۍ له مخې) تاسو دې ته اړباسی چې زما سره( بل څوک په ربوبیت کې) شریک وټاکۍ، نو اطاعت یې مه کوۍ، بالاخره تاسو ټول زما عدالت ته حاضریږۍ او زه به مو په هغو کړنو خبر کړم چې تاسو سرته رسول( او معلومه به شی چې په اولاد او والدینو کې، څوک متجاوز او څوک په حقه او صداقت و).

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِى ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٩﴾

او هغوی چې ایمان یې راوړی، او نیک عملونه کوی( په تیره بیا هغه اولادونه چې د خپلو والدینو ناحقه اوامر ونه منی)  د صالحینو او غوره شخصیتونو( انبیاو او صالحینو) په صف کې به وشمیرل شی.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِىَ فِى ٱللَّهِ جَعَلَ فِتْنَةَ ٱلنَّاسِ
كَعَذَابِ ٱللَّهِ وَلَئِن جَآءَ نَصْرٌ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ۚ
أَوَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِى صُدُورِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾

او په خلکو کې داسې کسان هم شته چې( په ژبو) وایی په الله تعالی مو ایمان  راوړی( خو زړونه یې د ایمان له نور نه محروم دی) کله چې د الله تعالی په لار کې کوم تکلیف او صدمه ووینی، نو( د خلکو شکنجه او زورونې) د الله تعالی عذاب گڼی( او د تکرار له ویرې یې له ایمان نه لاس په سر کیږی) او که ستا د رب له لوری (مؤمنانو ته د بری او غنیمتونو) مرسته ورسی نو وایی مونږ خو هم ستاسو سره( په ایمان او عقیده کې)  ملگری وو( نو مونږ ته هم په  غنیمت کې برخه راکړۍ). آیا الله تعالی د خلکو د زړونو په پټو اسرارو( اخلاص او نفاق) پوه نه دی؟( بلکه په ټولو پټو رازونو ډیر ښه خبر او عالم دی).

وَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴿١١﴾

او الله تعالی به هرومرو د مخلصو مؤمنانو او منافقینو اصلی څیرې ( د هغوی د اقوالو او اعمالو په شواهدو سره عامه منظر ته ور وپیژنی ( او هر چاته به د هغه د عقیدې او عمل په تناسب مکافات او مجازات ورکړی).

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّبِعُوا۟ سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ

خَطَٰيَٰكُمْ وَمَا هُم بِحَٰمِلِينَ مِنْ خَطَٰيَٰهُم مِّن شَىْءٍ ۖ إِنَّهُمْ

لَكَٰذِبُونَ ﴿١٢﴾

او کافران، مؤمنانو ته وایی( اسلام پرېږدئ او بیرته) زمونږ لارې او عقیدې ته راستانه شئ( که آخرت او عذاب راغئ) مونږ به ستاسو ګناهونه په غاړه واخلو، په داسې حال کې چې دوی( پخپله خوښه) د هیچا ګناهونه په غاړه نشی اخستی( او پخپلو دغو پیشنهادونو کې چې مؤمنانو ته یې وړاندې کوی) دروغ وایی.

وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ ۖ وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عَمَّا

كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿١٣﴾

او دوی به له خپلو ګناهونو سره، د هغو خلکو د ګناهونو پیټی هم په اوږو واخلی چې دوی ګمراه کړی دی، او د قیامت په ورځ به ترې د هغو دروغو او تومتونو پوښتنې ګروېږنې هم کیږی چې دوی( په الله تعالی، پیغمبر او قرآن) پورې تړلې دی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ

عَامًا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١٤﴾

او نوح مو د هغه قوم ته( د پیغمبر په حیث) واستاوه چې نهه سوه او پنځوس کاله یې هغوی ته( د الله تعالی د توحید په تبلیغ کې) تیر کړل( خو زیاترو خلکو ورباندې ایمان را نه وړ، او نه یې له کفر او شرارتونو څخه لاس واخست) چې بالاخره (د کفر) او ظلم له امله، د سخت توپان په څپو لاهو شول.

فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَصْحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ وَجَعَلْنَٰهَآ ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٥﴾

( نوح )او په کښتئ کې سپاره ټول انسانان( او حیوانات) مو د توپان له عذابه وژغورل او دغه( پیښه) مو( د خپل قدرت) د نښې او د عبرت د درس په توګه نړیوالو ته پرېښوده.

وَإِبۡرَٰهِيمَ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُۖ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن
كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١٦

**او ابراهيم مو هم ( د پيغمبر په حيث) واستاوه، کله چې يې خپل قوم ته وويل: يوازې د الله تعالی عبادت وکړئ او( له عذابه يې) ووېرېږئ، دا ستاسو لپاره ډېره غوره ده خو که وربانده پوهېږئ.**

إِنَّمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡثَٰنٗا وَتَخۡلُقُونَ إِفۡكًاۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ
تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ لَكُمۡ رِزۡقٗا فَٱبۡتَغُواْ عِندَ ٱللَّهِ
ٱلرِّزۡقَ وَٱعۡبُدُوهُ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥٓۖ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ١٧

**تاسو د الله تعالی په ځای د بتانو عبادت کوئ او په دروغو او ناحقه (هغوی ته د خدايانو او يا شفاعت کوونکو القاب ورکوئ). کوم شيان چې تاسو يې د الله تعالی په مقابل کې عبادت کوئ، ستاسو لپاره د رزق مالکان نه دی( چې تاسو ته به روزی درکړی) نو خپله روزی له الله تعالی نه وغواړئ او د هغه عبادت وکړئ او د نعمتونو شکر يې په ځای کړئ ځکه هرومرو د هغه حضور ته ورتلونکی ياست.**

وَإِن تُكَذِّبُواْ فَقَدۡ كَذَّبَ أُمَمٞ مِّن قَبۡلِكُمۡۖ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا
ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ١٨

**او که زما دعوت دروغ وګڼئ( نو کومه نوې خبره نه ده) ځکه ستاسو نه وړاندنيو ولسونو هم( خپل پيغمبران) دروغ ګڼلی، خو د پيغمبر وظيفه يوازې خلکو ته په پوره وضاحت سره الهی پيغام رسول (او وعظ او نصيحت دی چې بايد د خپلې دنيوی او اخروی نيکمرغئ لپاره د الله تعالی احکامو ته غاړه کېږدی).**

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ كَيۡفَ يُبۡدِئُ ٱللَّهُ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥٓۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى
ٱللَّهِ يَسِيرٞ ١٩

آیا دوی نه وینی چې څنګه الله تعالی مخلوقات پیدا کوی او له مرګه وروسته به یې بیرته راژوندی کوی، بیشکه چې( د خلقت او ژوند دغه اعاده) د الله تعالی لپاره ډیره آسانه ده.

قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ بَدَأَ ٱلۡخَلۡقَۚ ثُمَّ ٱللَّهُ يُنشِئُ
ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأٓخِرَةَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٠

( ای پیغمبره) ووایه: په ځمکه کې وګرځئ او ښه فکر وکړئ چې څنګه الله تعالی پیدایښت ایجاد کړی او بیا به هم په آخرت کې دغه لومړی پیدایښت تکرار کړی، ځکه چې الله تعالی په ټولو چارو د کامل قدرت لرونکی دی.

يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَرۡحَمُ مَن يَشَآءُۖ وَإِلَيۡهِ تُقۡلَبُونَ ٢١

چاته چې وغواړی عذاب ورکوی، او چاته چې اراده وکړی خپل رحمت وربانديې لوروی او تاسو ټول به بیرته د هغه حضور ته ورګرځئ.

وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِۖ وَمَا لَكُم مِّن
دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ٢٢

او تاسو نه په ځمکه کې الله تعالی بې وسه کولی شئ او نه په آسمان کې( نه د هغه د حاکمیت او قدرت له قلمرو نه وتلی شئ) او نه د الله تعالی نه غیر بل کوم سرپرست او مرستندوی موندلی شئ.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَلِقَآئِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يَئِسُواْ مِن رَّحۡمَتِي
وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢٣

هغه کسان چې د الله تعالی په آیتونو او د قیامت( د ورځې) په ملاقات( او د اعمالو له محاسبې نه) منکر دی، یقیناً چې د الله تعالی له رحمته نا امیده دی او دردوونکی عذاب ورته لیکل شوی دی.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱقۡتُلُوهُ أَوۡ حَرِّقُوهُ فَأَنجَىٰهُ
ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٢٤

خو د هغه قوم( چې هیڅ کوم دلیل او منطق ورسره نه و، د خپلمنځی مشورو په اساس یې د هغه په ضد د زور د استعمال فیصله وکړه او) ویې ویل چې ابراهیم باید ووژل شی او یا دې اور ته وغورځول شی( ترڅو د بت پرستی ضد تحریک له منځه لاړ شی) خو الله تعالی هغه د اور له ضرره وژغوره( او اور یې د هغه لپاره له

امنیت نه ډک کړ، او ثابته یې کړه چې الله تعالی خپلو مخلصو اوصادقو بندګانو ته څنګه نجات ورکوی). بیشکه چې په دې پیښه کې د ایمان لرونکو کسانو لپاره د عبرت درس پروت دی.

وَقَالَ إِنَّمَا ٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡثَٰنًا مَّوَدَّةَ بَيۡنِكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ثُمَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُ بَعۡضُكُم بِبَعۡضٖ وَيَلۡعَنُ بَعۡضُكُم بَعۡضٗا وَمَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٥﴾

او (ابراهیم خپل قوم ته) وویل: تاسو د خپل قومی یووالی او اتحاد د پیاوړتیا لپاره د الله تعالی په ځای د بتانو پرستش کوئ، خو د قیامت په ورځ به مو یوه ډله( رهبران ) له بلې ډلې( پیروانو) څخه منکر او بې زاره وی او په یو بل به لعنتونه وایی. نو( ای نمرودیانو او کافرانو!) استوګنځی مو دوزخ دی او هیڅوک به درته له دغه عذابه نجات در نه کړی شی.

۞ فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٞۘ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٦﴾

نو لوط په ابراهیم ایمان راوړ، او ( ابراهیم) وویل: زه د خپل رب حضور ته هجرت کوم ( یعني له عراق نه شام ته ځم چې هلته د خپل رب عبادت وکولی شم) بیشکه چې هغه یوازینی برلاسی او حکیم ذات دی( چې ما ته به مې له دښمنانو نجات راکړی او چارې او اقدامات یې په حکمت بنا دی چې د خیر لاره به راته سمه کړی) .

وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَجَعَلۡنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلۡكِتَٰبَ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَجۡرَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾

او هغه ته مو اسحاق( زوی) او یعقوب( لمسی) ور وبښل او په ځوځات کې مو ورته د نبوت او کتاب( تورات، انجیل، زبور او قرآن) د ورکړې سلسله پرله پسې دوامداره وساتله. دغه راز مو ورته د دنیوی اجر په توګه( لوړ مقام او عزت) ورکړ او په آخرت کې به هم د ډېرو غوره شخصیتونو څخه وشمیرل شی.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا
سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ٢٨

او لوط مو هم د پیغمبر په حیث واستاوه، کله چې یې خپل قوم ته وویل: په ډېرو ناوړو فاحشو اعمالو اخته یاست، چې ستاسو نه وړاندې یې په بشری تاریخ کې مثال نه لیدل کیږی.

أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِى
نَادِيكُمُ ٱلْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوا۟
ٱئْتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٢٩

آیا تاسو له نارینه و سره جنسی اړیکې ساتئ او(د تولد او تناسل) لاره بندوئ، او پخپلو عمومی غونډو او محافلو کې په ډاګه او بې شرمانه توګه دغه فاحش عمل ته لاس اچوئ. خو د قوم ځواب یې بس همدا و چه که رښتیا وایې د الله عذاب دې رانازل کړه.

قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْمُفْسِدِينَ ٣٠

(هغه د عجز او بې وسئ په حال کې خپل رب ته د دعا لاسونه اوچت کړل او) ویل یې: ای زما ربه د دې مفسد قوم په مقابل کې زما مرسته وکړه.

وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوٓا۟ إِنَّا مُهْلِكُوٓا۟ أَهْلِ
هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ۖ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا۟ ظَٰلِمِينَ ٣١

او کله چې زمونږ استازی( د اسحاق د پیدا کیدو) له زیری سره، ابراهیم ته راغلل، ویې ویل: مونږ د دې ښار اوسیدونکې له منځه وړو، ځکه دوی ظالمان او تیری کوونکی دی.

قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ قَالُوا۟ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥٓ
إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ٣٢

ابراهیم وویل: هلته خو لوط هم اوسیږی. (پرښتو) وویل: مونږ ته د ښار ټول اوسیدونکی ډیر ښه معلوم دی، مونږ به لوط د هغه له کورنی سره، له عذابه وژغورو، خو ښځه به یې له تباه کیدونکو سره پاتی او له منځه به ځی.

وَلَمَّآ أَن جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا

وَقَالُواْ لَا تَخَفۡ وَلَا تَحۡزَنۡۖ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهۡلَكَ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَ

كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٣٣

او کله چې زمونږ استازی( د ښکلو هلکانو په څیره کې) لوط ته ورغلل، هغه ډیر خفه او زړه تنګی شو( چې کیدی شی د قوم خلک به یې ورباندې خبر شی) خو هغوی ورته وویل: مه ویریږه او مه خفه کیږه، مونږ به تا او ستا ټولې کورنی ته نجات ورکړو، خو میرمن به دې( د هلاکت لپاره) په پاتې کیدونکو کې شامله وی.

إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ أَهۡلِ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا

كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ٣٤

مونږ د دې کلی په اوسیدونکو باندې د دوی د ناوړو اعمالو له امله، له آسمانه یو سخت عذاب نازلوو.

وَلَقَد تَّرَكۡنَا مِنۡهَآ ءَايَةَۢ بَيِّنَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٣٥

( نو د آسمانی عذاب په وسیله مو د ښار اوسیدونکی سخت وځپل) او د ښار د ښکاره نښنو په حیث مو( په هغوی ورول شوې تیږې) د پوهې او بصیرت د خاوندانو د عبرت لپاره پریښودې.

وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗا فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱرۡجُواْ

ٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ٣٦

او مدین ته مو د هغوی( قومی) ورور شعیب ورواستاوه چې ورته یې وویل: ای زما قومه د الله تعالی عبادت وکړی، د قیامت د ورځې راتګ ته منتظر اوسی( له عذابه یې وویریږی) او په ځمکه کې فساد او ګډوډی مه جوړوی.

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ

جَٰثِمِينَ ٣٧

خو هغوی دروغ وګڼله او بالاخره داسې یوې شدیدې زلزلې پخپلو قهری منګولو کې راونیول، چې په څو شیبو کې هر سړی پخپل خپل کور پړمخې مړ پروت و.

وَعَادًا وَثَمُودَاْ وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمۡۖ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَكَانُواْ مُسۡتَبۡصِرِينَ ٣٨

او عادیان او ثمودیان( مو هم هلاک کړل) چې تاسو یې د کنډواله شویو کورونو آثار پخپلو سترګو وینئ، چې د هغوی د ناوړه سرنوشت ډېر ښه ښکارندوی دی، او شیطان ورته د هغوی ناوړه اعمال ښکلې ښکاره کړی او هغوی یې د الله تعالی له لارې راګرځولي وو، په داسې حال کې چې ښه هوښیار او په خبره پوه خلک وو( او د حق او باطل د تشخیص او تفکیک ډېر ښه بصیرت یې درلود).

وَقَٰرُونَ وَفِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانُواْ سَٰبِقِينَ ٣٩

او قارون او فرعون او هامان مو هم هلاک کړل) چې موسی ورته د څرګندو معجزاتو سره راغی، خو هغوی د( مصر) په ځمکه کې تکبر او سرکشي وکړه( چې زمونږ په اراده او قضا او قدر) یې برې و نه موند( او له عذابه خلاص نه شول).

فَكُلًّا أَخَذۡنَا بِذَنۢبِهِۦۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِ حَاصِبٗا وَمِنۡهُم مَّنۡ أَخَذَتۡهُ ٱلصَّيۡحَةُ وَمِنۡهُم مَّنۡ خَسَفۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ وَمِنۡهُم مَّنۡ أَغۡرَقۡنَاۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٤٠

نو هر یو ته مو د هغه د ګناه او جرم سره سم مناسبه سزا ورکړه، ځینې مو په( تیږو ویشتونکو) بادونو هلاک کړل( لکه د لوط قوم او عادیان)، ځینې هیبتناکې چیغې راونیول( لکه ثمودیان او اهل مدین چې زړونه یې وچاودل) او ځینې مو د ځمکې په تل ورننه ویستل( لکه قارون) او ځینې نور مو له یوې مخې په اوبو لاهو کړل( لکه د نوح قوم، فرعون، هامان او پوځونه یې). الله تعالی په هغوی ظلم نه دی کړی، بلکه دوی پخپله( په کفر او معصیت سره) په ځانونو ظلم کاوه.

مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَ كَمَثَلِ
ٱلۡعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتۡ بَيۡتٗاۖ وَإِنَّ أَوۡهَنَ ٱلۡبُيُوتِ لَبَيۡتُ
ٱلۡعَنكَبُوتِۖ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾

د هغو کسانو مثال چې د الله تعالی نه غیر، نور باطل خدایان غوره کوی، د عنکبوت( جولاګی) په شان دی چې د ځان لپاره یې( بې دیواله، بې چته او بې امنه کور جوړ کړی)او بیشکه چې تر ټولو کمزوری او بې بنسټه کور د عنکبوت ځاله ده( چې په یوه جټکه له منځه ځی). که کافرانو دغه واقعیت په ښه توګه درک کولی( هیڅکله به یې د بتانو پرستش نه کاوه).

إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ﴿٤٢﴾

الله تعالی ډیر ښه پوهیږی، هغه شیان چې (کافران او مشرکان) یې د ده په ځای عبادت کوی هیڅ ارزښت  او اعتبار نه لری( نه په چارو کې د تصرف قدرت ورپه برخه دی او نه چا ته ګټه او تاوان رسولی شی) بلکه دا یوازې الله تعالی دی چه په خپلو ټولو اقداماتو او احکامو برلاسی او حکیم ذات دی( او ټولې چارې په پوره حکمت او تدبیر سرته رسوی).

وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِۖ وَمَا يَعۡقِلُهَآ إِلَّا
ٱلۡعَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾

مونږ( په مبارک قرآن کې پرله پسې) دا مثالونه خلکو ته وړاندې کوو، خو یوازې د عقل او پوهې خاوندان ترې عبرت اخلی.

خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ
لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٤﴾

الله تعالی، آسمانونه او ځمکه په حقه( او حکمت او تدبیر سره) پیدا کړی او د هغو په خلقت کې د مؤمنانو لپاره( د الله تعالی د  توحید، ربوبیت او قدرت) څرګندې نښانې پرتې دی.

ٱتْلُ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِنَ ٱلْكِتَـٰبِ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ ۖ إِنَّ
ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ ۗ وَلَذِكْرُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ۗ
وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ ﴿٤٥﴾

**( ای پیغمبره! په تدبر او تفکر سره) د الله تعالی د وحې کړی شویو آیتونو تلاوت کوه او د لمانځه نظام قایم کړه، بیشکه چې لمونځ( لمونځ کوونکی) له بې حیا او بدو کارونو څخه منع کوی او بیشکه چې د الله تعالی ذکر او یاد تر ټولو غوره عبادت دی او الله تعالی ستاسو په ټولو کړو وړو ډیر ښه پوهیږی.**

۞ وَلَا تُجَـٰدِلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ
ظَلَمُوا۟ مِنْهُمْ ۖ وَقُولُوٓا۟ ءَامَنَّا بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَأُنزِلَ إِلَيْكُمْ
وَإِلَـٰهُنَا وَإِلَـٰهُكُمْ وَٰحِدٌ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿٤٦﴾

**او له اهل کتابو سره په نیکه او احسنه توګه( او صبر او زغم سره) بحث او مجادله کوئ، خو له هغو کسانو سره پکې چې ستاسو سره ظالمانه او دښمنانه رویه او سرتمبګی کوی،(تاسو هم ورته په سختئ او تشدد ځواب ورکولی شئ، خوغوره او احسنه لار دا ده چې ورته) ووایئ: مونږ په هغه( قرآن) ایمان راوړی چې په مونږ نازل شوی، او په هغو کتابونو هم ایمان لرو چې په تاسو نازل شوی، او زمونږ او ستاسو خدای یو دی، او مونږ د هغه( فرامینو او احکامو ته) غاړه ایښې (او موحدان) یو.**

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ ۚ فَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ
يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۖ وَمِنْ هَـٰٓؤُلَآءِ مَن يُؤْمِنُ بِهِۦ ۚ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَـٰتِنَآ إِلَّا
ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٤٧﴾

**او( ای پیغمبره! لکه څنګه چې مونږ په پخوانیو پیغمبرانو کتابونه نازل کړی) دا کتاب( قرآن) مو تاته نازل کړی، نو یو شمیر اهل کتاب( لکه عبدالله ابن سلام، سلمان فارسی او ملګری یې چې پخوانی آسمانی کتابونه یې په حقه لوستلی او وربانديې پوهیدلی)اوس په دې کتاب( قرآن) هم ایمان لری، او( د مکې) یو شمیر (عربان) هم وربانديې ایمان لری، خو یوازې( حق پټوونکی او لجوج) کافران ورڅخه انکار کوی.**

وَمَا كُنتَ تَتْلُواْ مِن قَبْلِهِۦ مِن كِتَٰبٖ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَۖ إِذٗا
لَّٱرۡتَابَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ٤٨

**او (له قرآن نه) وړاندې، تا هيڅ کتاب نه و لوستی او نه دې پخپل ښۍ لاس کومه ليکنه کړې( او که ته ليکونکی او لوستونکی وی، نو باطل پرستانو به( د قرآن په وحې او حقانيت) شکونه کولی.**

بَلۡ هُوَ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ فِي صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَۚ وَمَا يَجۡحَدُ
بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلظَّٰلِمُونَ ٤٩

**بلکه دا د قرآن روښانه آيتونه دی( چې الفاظ او معناوی يې) د پوهې او معرفت لرونکو( مؤمنو علماو، حافظانو او قاريانو) په سينو کې د يوې څرګندې معجزې په حيث) حفظ دی او يوازې بې انصافه ظالمان زمونږ له آيتونو څخه منکر دی.**

وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَٰتٞ مِّن رَّبِّهِۦۖ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ
ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ٥٠

**او( د مکې کافران) وايی چې ولې په دې پيغمبر( د پخوانيو پيغمبرانو په شان) معجزې نه نازليږی. ورته ووايه: معجزې يوازې د الله تعالی په اختيار کې دی او زه صرف( له الهی عذابه) خبروونکی او تنبيه کوونکی يم.**

أَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ فِي
ذَٰلِكَ لَرَحۡمَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٥١

**آيا د دوی لپاره دا کتاب( قرآن) پوره نه دی چې مونږ تاته نازل کړی او هغوی ته لوستل کيږی، بيشکه په دې کتاب کې( يو ځانګړی) رحمت پروت دی، او د ايمان راوړونکو لپاره پند او نصيحت دی.**

قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ شَهِيدًا ۖ يَعْلَمُ مَا فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ وَكَفَرُوا۟
بِٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٥٢﴾

( ای پیغمبره!) ووایه: همدا پوره ده چې الله تعالی( زما د نبوت د حقانیت لپاره) زمونږ او ستاسو تر منځ پخپله ګواه دی، او د آسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات هم پوهیږی، او څوک چې په باطل( بتانو او شیطان) ایمان لری او له الله تعالی نه منکر دی،واقعاً چې له سخت زیان( او بدبختۍ) سره به مخامخ شی.

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ ۚ وَلَوْلَآ أَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ ٱلْعَذَابُ
وَلَيَأْتِيَنَّهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٣﴾

او( کافران) ستا نه په تلوار(په همدې دنیا کې)د عذاب نزول غواړی، که( د هغوی لپاره) یوه خاصه موده نه وی ټاکل شوې، همدغه عذاب به ورباندې سمدلاسه نازل شوی وی،خو( باید پوه شی) چې آفت او عذاب به پرې داسې نازل شی چې د دوی په خیال خاطر کې به هم نه وی( زیاته موده لا نه وه تیره، چې د کفر او شرک زیات شمیر جنګی اتلان په غزواتو کې ووژل شول او ګڼ شمیر یې د مؤمنو مجاهدینو په لاس اسیران شول، او څه موده وروسته بیا د مکې خلک د غفلت په خوب ویده وو چه اسلامی لښکرې یې دروازو ته ودریدې).

يَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٤﴾

ستا نه په تلوار سره( په دنیا کې) عذاب غواړی، خو( ورته ووایه چې) بې له شکه د دوزخ اور له کافرانو څخه راچاپیره کیدونکی دی.

يَوْمَ يَغْشَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا۟
مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٥﴾

او په هغه ورځ( به دوی ووینی) چې عذاب ترې د سر او پښو( او له هر لوری) خپله غیږه را چاپیر کړی او الله تعالی( یا پرښتې) ورته ووایی چې د خپلو اعمالو( په بدل کې اوس د دوزخ د اور) خوند واخلئ.

يَٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ أَرْضِى وَٰسِعَةٌ فَإِيَّٰىَ فَٱعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾

ای زما مؤمنو بندګانو! بیشکه چې زما ځمکه پراخه ده، هر ځای ته( مو چې خوښه وی او ستاسو دینی ارزښتونه پکې خوندی وی لاړ شئ او) زما عبادت وکړئ.

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿٥٧﴾

هر ساکښ د مرګ څکونکی دی او بیا ټول زمونږ حضور ته راګرځیدونکی یاست.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ ٱلْجَنَّةِ غُرَفًا
تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ نِعْمَ أَجْرُ ٱلْعَٰمِلِينَ ﴿٥٨﴾

هغه کسان به چې ایمان یې راوړی او اعمال یې هم نیک دی، د جنت په هغو عالیشانو او مجللو مانیو کې تل تر تله هستوګن وی، چې تر لاندې یې( د الهی نعمتونو) ویالې روانې وی، څومره ښه اجر او پاداش دی د نیک عمله(مؤمنانو) لپاره.

ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٥٩﴾

هغه( مؤمنان) چې په صبر( او ټینګ عزم پخپل ایمان، صالحو اعمالو او اخلاقو) ولاړ او پخپل رب توکل او اعتماد کوی.

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ٱللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ ۚ وَهُوَ
ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٦٠﴾

ډیر داسې ساکښان( او کمزوری ژوی ) شته چې خپله روزی پخپله نشی تأمینولی خو الله تعالی دی چې هم هغوی ته روزی ورکوی او هم تاسو ته، او( د ټولو ویناو او خبرو) اوریدونکی او( په ګردو اعمالو او حالاتو) پوه ذات دی.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ
لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾

او( ای پیغمبره!) که له مشرکانو پوښتنه وکړې چې آسمانونه او ځمکه چا پیدا کړی او لمر او سپوږمی چا تابع او مسخر کړی دی؟ بې له شکه به ووایی چې الله تعالی.( نو له دغه اعتراف سره سره بیا ولې له حق نه باطل ته) منحرف کیږی؟

ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ
عَلِيمٞ ﴿٦٢﴾

الله تعالی چې پخپلو بندګانو کې، چاته اراده وکړی روزی( او د ژوند تولی آسانتیاوې) یې پراخوی، او چاته چې اراده وکړی، ژوند ورباندې تنګوی، بیشکه چې الله تعالی په ټولو چارو ښه عالم دی( او پوهیږی چې چا ته څومره رزق او سهولتونه برابر او ور په برخه کړی).

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ
بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا
يَعۡقِلُونَ ﴿٦٣﴾

او که له هغوی نه پوښتنه وکړې چې چا له آسمانه اوبه نازلې کړی او ځمکه ورباندې له مرګ( وچوالی) نه وروسته بیرته راژوندۍ کوی، بې له شکه به درته ووایی چې الله تعالی( نازلې کړی دی. نو له دغه اعتراف نه وروسته بیا ولې له هغه سره شریکان غوره کوی؟ ای پیغمبره) ورته ووایه: ټولې ستاینې د الله تعالی لپاره ځانګړی دی( او مشرکان له حقیقت نه لیرې او) زیاتره یې له پوهې نه هم بې برخې دی.

وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ
ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٦٤﴾

او د دې دنیا ژوند خو بس یوه سرګرمی او لوبه ده ، او د آخرت ژوند ( واقعی او ابدی) ژوند دی، که له دوی سره پوهه او معرفت وی( نو هیڅکله به یې دنیا ته په آخرت ترجیح نه ورکولی).

فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى
ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ﴿٦٥﴾

( مشرکان د امنیت او سوکالی نه د ډک ژوند  په مزو چرچو کې د شیطان پیروی کوی ) خو کله چې په کښتی کې سپاره شی( او د دریاب په منځ کې یې مرګونې او خطرناکې توپانی څپې پخپله قهری غیږه کې راونیسی) نو الله تعالی ته په پاک ایمان او اخلاص( د خپل نجات لپاره)  په دعا ګانو او فریادونو سر شی، او چې یې له آفت

او مصیبت نه وژغورو، او په وچه قدم کیږدی( نو د الله تعالی ټول احسانونه هیروی) او بیا د باطلو خدایانو عبادت او توصیفاتو ته اړم وی.

لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ وَلِيَتَمَتَّعُواْۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٦٦

( او بالاخره په هغو نعمتونو) چې مونږ ورکړی، ناشکری کوی او( د خپل مشرکانه ژوند په عیشونو کې ډوب وی، خو زر ده چې د دغې ناشکری ناوړه ) نتیجه به ووینی.

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا حَرَمًا ءَامِنٗا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنۡ حَوۡلِهِمۡۚ
أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ وَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَكۡفُرُونَ ٦٧

آیا نه پوهیږی چې مونږ( مکه معظمه) د امن حرم ټاکلی، چې دوی پکې د امنیت او سوکالی په فضا کې ژوند کوی) په داسې حال کې چې په شاوخوا سیمو کې یې خلک( د غلو او لوټمارو په وسیله) تېښتول کیږی؟ نو د دغه لوی نعمت په درلودلو بیاهم د باطل پیروی کوی او د الله تعالی په نعمتونو ناشکره دی.

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُۥٓۚ
أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡكَٰفِرِينَ ٦٨

او له هغه نه بل لوی ظالم څوک دی چې په الله تعالی باندې دروغ تړی( او وایی بتان یې له ځان سره شریکان ټاکلی) یا دا چې کله ورته حق( رسول او قرآن) راشی نو دروغ یې ګڼی( بلکه له دغه ډول انسان نه بل لوی ظالم نشته) نو آیا په دوزخ کې د کافرانو لپاره د هستوګنې ځای نشته؟( بلکه شته او همدغه یې تلپاتې ټاټوبی دی).

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٦٩

او څوک چې زمونږ( د دین د پرمختګ لپاره) هلې ځلې او کوښښونه کوی،مونږ ورته پخپله لاره کې د هدایت او بصیرت یو خاص نور ورپه برخه کوو( چې د ده دنیوی او اخروی نیکمرغی او سوکالی تضمینوی) بیشکه چې الله تعالی د نیکوکارانو ملګری او مرستندوی دی.

« تمت سورة العنکبوت بفضل الله تعالی»

=======================